دریمه کچه

# د سرو زرو مرغۍ

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** سید عاشق محمود

**انځور گر:** سورگه بټاچریا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د ښار پاچا، زنبورک شاه په تخت ناست ؤ او خپل بریت یې تاوول. د هغه دربار له وزیرانو او نوکران ډک ؤ. د دربار ستوری پیژندونکی د یوې وړاندوینې په اړه په ژور سوچ کې ډوب ؤ.



پاچا په غصه ناک غږ ستوري پيژندوکي ته وويل: “ څه بايد وکړم چې د ټولې نړۍ واکمن شم.“
ستوري پيژندوکي ځواب ورکړ: " ښاغليه! ستوري وايي چې سل په سله ته د ټولې نړۍ واکمن کيدای شې."

“ ډېر ښه، ډېر ښه!"

د دربار ټولو ناستو کسانو لاسونه و پړکول. ستوري پېژندونکي خوله خلاصه کړه چې یو څه ووايي، خو بیرته غلی شه. پاچا د هغه چپتیا ولیده او ورته یې وویل: “ وایه څه خبره ده. مه ویرېږه."

ستوري پېژندونکي وویل: " ښاغلیه! په دې پاچاهۍ کې یوه ډېره ښایسته د سرو زرو مرغۍ شته. که چیرته دغه مرغۍ را ونیسئ، نو هیڅوک نشي کولی ستاسو د دغې لوېې واکمنۍ مخه ونیسي."





پاچا د دغې مرغۍ د نیولو امر وکړ.
د دربار درباریانو یوه غونده وکړه او اعلان یې وکړ : “ هر چا چې دغه مرغۍ را ونیوله، د پاچا لخواه به ډیر ونازول شي."



د پاچا ځواکونو پلټنه پیل کړه، غرونه، غونډۍ او ځنګلونه یې د سرو زرو مرغۍ پسې و لټول. په پای کې د دربار ستور پیژندونکو وړاند وینه وکړه چې د سرو زرو مرغۍ د شین غره په سر کې ده. پاچا ډیر ژر دغه غره ته کسان واستول.

په دې وخت کې د پاچا شهزادګۍ د دربار له کټارو کتل چې یو لښکرغره خواته روان دی. کله چې هغې آسمان ته وکتل، یو څه یې تر ستروګو شول. او دا د سرو زرو مرغۍ وه.



مرغۍ د قصر په کټارو کیناسته. مرغۍ هغې ته وویل: “ شهزادګۍ، زه راغلې یم چې ونیول شم. ما دې خپل پلار ته یوسه.“ شهزادګۍ وویل: “ ولې غواړې چې ونیول شې؟ نه پوهیږې که زما پلار تا ونیسي نو ژوندې به دې پرینږدي، هغه تا وژني."





مرغۍ په خواشينۍ سره وويل: “ زه غواړم چې مړه شم مخکې له دې
چې زما لپاره څوک مړ شي. ډيرو خلکو زما د پلټلو لپاره ځانونه له لاسه
ورکړي دي. زه غواړم له بيوځلو سره مرسته وکړم.“
شهزادګۍ وويل: “ ګرانې مرغۍ، په دې بام کينه. هيڅوک به پوه نه شي
چې ته چيرته يې. هر ځای ته چې غواړې تلی شې، هر چا سره مرسته
کولی شې، خو تل به دلته راځې. ته به په امن کې وې."



شهزادګۍ د سرو زرو مرغۍ ته وویل: “ وږې نه يې؟ خواړه درته راوړم؟"

مرغۍ وویل: “ نه، شهزادګۍ. زه د باران په څاڅکو، د سپوږمۍ له رڼا او د شبنم په اوښکو ژوند تېروم. زه خوړو ته اړتيا نه لرم."



په آسمان کې بې شمیره ستوري ځلیدل. پاس په بام د سرو زرو مرغۍ آسمان ته کتل.
له لرې د یو ماشوم د ژړا غږ اوریدل کیده. مرغۍ ور والوته چې دغه ماشوم را پیدا کړي.

بل سهار، د سړک د سر زاړه کورونه چې د سرو زرو مرغۍ پرې
آلوتې وه، ټول په ښایسته کورونو بدل شوي وو.





ماشومان ټول له کتابو سره ښوونځي ته روان وو. هغوی خندل او په خپلو نوو
جامو يې وياړ کاوه.
هره کوڅه ښايسته شوې وه، تا به ويل چې په رنګينو کاغذونو دې پوښلي وي.



هر زوړ کور په ښایسته خښتو او ځراغو بدل شوی ؤ. ماشومانو د قیصو کتابونه لوستل، ښځوو دیوالونه رنګول، ځوانانو په کوڅو کې سندرې ویلې."



په بله ورځ، کله چې شهزادګۍ
دقصر بام ته وخته، یو زړه
ماتوونکی غږ یې واوریده. وې
لیدل چې د سرو زرو مرغې
رباب وهي. شهزادګۍ چې ور
نږدې شوه، ټکان یې وخوړ.
د سرو زرو مرغې نیمې بڼکې
له لاسه ورکړې وې.



شهزادګۍ وويل: “ وا د سرو
زرو مرغۍ! ولې د ې په ځان
ظلم وکړ؟" مرغۍ شهزادګۍ
ته وويل: " ما درته نه ؤ ويلي
کوم څه چې زه يې غواړم،
هغه د خلکو خوښي ده؟"
شهزادګۍ د مرغۍ سترګو ته
وکتل او موسکۍ شوه. او بيا
يې د قصر له کړکۍ پاچاهۍ
خواته وکتل. هرې خواه يې
چې کتل، آباديانې او د خلکو
خوښۍ يې تر سترګو کيدې.



شهزادګۍ مرغۍ سره په خبرو کې ویل " زما د سرو زرو مرغۍ، په ریښتیا چې تا له دغو خلکو سره مرسته کړې ده."
مرغۍ په خفګان سره وویل: " نه شهزادګۍ. اوس هم ډیر بې وځله او غمجن خلک شته." د سرو زرو مرغۍ، شهزادګۍ ته مخ ور واړوه او وې ویل: " مخکې له دې چې زه مړه شم، ته کولای شې یو څه مرسته را سره وکړې؟" شهزادګۍ په ژړا شوه " نه، نه! ولې مرې؟ هرو مرو ته ستړې یې. دمه ونیسه، سبا دې وینم."
مرغۍ وویل " هغه څه مې چې غوښتل درته ووایم، هغه ټول مې درته نه دي ویلي." شهزادګۍ د مرغۍ د مرګ په اوریدو ډیره خفه شوه. او وې ویل: " هر څه چې وایې، سبا ته یې اورم. اوس آرام وکړه. ډیره ناوخته ده. سبا ته ګورو."



په همدې وخت کې، پاچا ورو، ورو قصر خواته له شنه غره څخه را روان ؤ؛ او بې له کومې لاسته راوړنې را وګرځېدل.
کله چې ښار ته را وګرځېدل، پاچا حیران شو او ټکان یې وخوړ. دلته خو زاړه کورونه وو، اوس هر څه نوي شوي دي. سړکونه جوړ شوي او خلک خوښ وو.
پاچا په حیرانۍ سره وویل: " دا دومره بدلون زما په پاچاهۍ کې چا راوستلی دی."



پاچا یوه لویه غونډه را وغوښتله. په زرهاو خلکو ګډون وکړ. پاچا وویل: "ګرانو خلکو! آیا د سرو زرو مرغۍ مو را پیدا کړه؟ کوم یوه پیدا کړه؟"
خلکو په یو غږ وویل: " نه، ښاغلیه!"

د دې خلکو له منځه یو کس وویل: " ښاغلیه! مونږ د سرو زرو مرغۍ
و نه لیدله، خو د هغې ګټې مونږ ته را رسیدلي دي. د سرو زرو بڼکو
زمونږ ژوند را جوړ کړی او مونږ خوښ یو."





پاچا په ژړا او غصې سره وویل: " په کوم جرئت دا خبره کوئ! تاسو د دې خاورې خلګ یاست، هر څه چې له مرغۍ تر لاسه کوئ، هغه باید د پاچا په خزانه کې وشمیرل شي."



باچا خپل دربار ته واپس شه، د دربار ستوري پیژندونکي ته يې امر وکړ “ ووايه چې د سرو زرو مرغۍ چیرته پټه شوې ده!"

به همدې وخت کې چې د دربار ستوري پېژندونکي د مرغۍ د ځای په اړه سوچونه کول، د شهزادګۍ همکارې ټوله قیصه شهزادګۍ ته ورسوله.
شهزادګۍ د قصر بام ته منډه کړه تر څو د سرو زرو مرغۍ خبره کړي.



مخکې له دې چې شهزادګۍ څه ووايي، مرغۍ هغې ته وويل: ‘‘ تاته په تمه وم، شهزادګۍ. ډېر وخت نه لرم. مونږ باید خپل کار مخکې له دې چې پاچا مې را ونیسي، پای ته ورسوو."
د سرو زرو مرغۍ د شهزادګۍ په غوږ کې څه وويل.





د شهزادګۍ سترګې له اوښکو ډکې شوې.
شهزادګۍ و بنګيده “ زه آواز وايم، زه ستا ښايسته ښکې نه شکوم."



د دربار ستوري پيژندونکي خپل سوچ پای ته ورساوه. هغه خوښ مالوميده.

" ښاغليه، تاسو د سرو زرو مرغۍ را نيولې ده! مرغۍ په همدې قصر کې ځان پټ کړی ده. ډومره د تعجب خبره ده!"

شهزادګۍ او مرغۍ دواړه د بام په غاړه ناست وو. د پاچا د عسکرو غږونه اوریدل کیدل چې مرغۍ یې لټوله. هغوی مرغۍ پسې حرم سرای ته راغلل هغه ځای چې هیچاته د ننوتو اجازه نه وه.





مرغۍ نا کراره شوه او وي ویل " شهزادګۍ نوره مه پاتې کیږه."
شهزادګۍ په تلوار سره د مرغۍ پاتې بڼکۍ و شکولې او له سترګو یې
اوښکې بهیدې. د سرو زرو مرغۍ سترګې پټې کړې.
پاچا او د هغه ځواکونه په زینو کې را ختل. مرغۍ په زارۍ شهزادګۍ ته
وویل " تلوار وکړه!" شهزادګۍ د مرغۍ پاتې بڼکې په پلو کې را ټولې
کړې. بیا هغه د قصر منځ ته لاړه او هماغه خبرې چې مرغۍ وربښودلې
وې له ځان سره یې زمزمه کولې.



“ تر ټولو ډیر بیوځله هم باید یوه د سرو زرو ښکه تر لاسه کړي.
ښکې دې والوزي او د هغوی ژوند دې ښاسته کړې"
څنګه چې شهزادګۍ همدا آواز زمزمه کاوه، د سرو زرو ښکې په هوا کیدې او ورکیدې.
په همدې وخت کې پاچا له عسکرو سره د ماڼۍ بام ته را وخوت.





شهزادګۍ خفه وه چې د هغې پلار د زړه سواندې مرغۍ د مرګ قاتل دی. شهزادګۍ خپل پلار ته وویل: " څوک تاته ډېر ارزښت لري، زه او که د سرو زرو مرغۍ؟" پاچا حیران شه. د بام په غاړه غلی کیناست. شهزادګۍ د هغه ترڅنګه کیناسته. پاچا په ډکو سترګو هغې ته کتل او هغه یې په غېږ کې ونیوه. پاچا په مړاوي غږ وویل: " نه، بچییه! ته زما د زړه خزانه یې. ستا سره مینه راته د ټولې نړۍ له واکمنۍ غوره ده."





د پاچا درباریانو یو دسرو زرو ټوپ او دسرو زرو بنګړې د بام په سر ومونديږ. شهزادګۍ بنګړې واخیستې او په ټوپ یې ومونډلې.

ټوپ وځلیده او په مرغۍ بدل شه. مرغۍ وزرې و پړکولې او آسمان خواته والوته.

# لاربښودونکې پوښتنې

1. ولې شهزادګۍ د سرو زرو مرغۍ ته وويل چې په بام کينه؟
2. د پاچا او شهزادګۍ شخصيتونه څومره ورته والی او توپيرونه لري؟
3. که چيرته په دغې قيصه کې تاسو شهزادګۍ وئ او د سرو زرو مرغۍ مو موندلې وی، نو څه به مو کړي وؤ؟
4. آيا د قيصې پای مو خوښ شو؟ ولې يا ولې نه؟ آيا کومه بله لاره وه چې ليکوال دغه قيصه پرې پای ته رسولې وی؟
5. که چيرته تاسو داسې يو دسرو زرو مرغۍ و وينئ، کوم ځای ورته ښيئ چې وزرې وغورځوي؟ ولې؟